بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان

Dr.Said Afghani

د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا

د نشر نېټه : اول اپريل ۲۰۱۳ ميلادی

# زمزمه او خپل احساسات




په اوسني پښتو ادب کې په ځانګړي ډول په شعر کې د ښځينه احساساتو کارولو ته د ښځينه شاعرانو ډېره پاملرنه نه وه شوې ؛خو په تيرو څو کلونو کې ورته ډېرکار وشو.
خپل احساسات يې په يوه داسې هنري انداز کې ځای کړل چې لوستونکي ترې ډېر ژر د نظر له عينکو خپلې موخې ته د رسيدو لټه کوي.

او کولای شي چې دیوچا د ژوند د انځورونو کتاب وګوري ،دهغه د ژوند دکتاب په پاڼو کې د فکر نیلی وځغلوي د ژوند په هنداره کې یې تم شي،د خپل ژوند ژوندي انځورونه پکې ومومي او د خپل زړه د تسکین لپاره ترې د خوندونو جوهر راټول کړي.

دپښتو شعر کره کتونکی صدیق الله بدر په خپل کتاب (لونګو درېځې) کې په شعر کې د ښځینه وو دخپلو احساساتو د څرګندولو د کمښت او دنه بیانولوعلت راپه ګوته کوي:
((په پښتو شعر کې د ښځینه احساساتو او عواطفو څرګندونه هغه مساله ده،چې ډېرو ښځو شاعرانو ورته توجه نه ده کړې، ډېری ادبپوهان په دې نظر دي، چې تر ډېره بریده د هغه علت په ټولنه کې د مسلطو دود او دستورونو موجودیت دی.))
نوموړی وایي:

کوم شاعران، چې نوې او خپلې خبرې کوي او خپلې تجربې په هنري انداز بیانوي، ادبپوهان یې لوی شاعران ګڼي.

دی زیاتوي:(( په شعر کې د شاعر له خوا د خپلو تجربو او نویو خبرو څخه یوه موخه دا ده، چې لوستونکي په اسانه کولی شي،هغه وخت او مکان په ساده ډول وپیژني او په یو ډول د تکرار مخه ونیول شي.))

د بدر صیب دخبرې پر تایید باید یو څه ور زیات کړم هغه داچې که څه هم ښځینه احساسات د پښتو په ادب کې دلږې تشې احساس کیږي؛خو د پخوا په پرتله یوڅه کار ورته شوی دی چې سبب یې د میرمن ـ کلتوري ټولنیز بهیر دبنسټ ایښودل و.

یاد بهیر دافغان میرمنو لپاره د یوه ښوونځي حیثیت لري. په بهیر کې د کره کتنیزو غونډو ترڅنګ د پیاوړ استادانو لخوا د ادب،د ټولنیزو مسلو په پار لکچر ورکول،د میرمنو د اثارو پرلپسې چاپیدل او د رڼا مشاعرې لمانځل کېدل هغه څه دي چې میرمنې یې د هڅونې لامل وګرځېدې او د دوی په فکري او ذهني قوه کې ورځ تربلې مثبت پیاوړی بدلون راغي چې اوس ترې د ډېر کار کولو تمه کیږي.

زمزمه نیازۍ هم هغه نوښتګره او هنرمنده پیغلوټه شاعره ده چې د پښتو ادب ځلانده ستوري ګل پاچا الفت او انقلابي شاعر فضل ولي ناګارد سیمي لغمان شاعرانه ذوق پرې غوړېدلی او دمیرمن کلتوري ـ ټولنیزبهیر غیږ کې روزل شوې،چې اوس د ښو شاعرانو په قطار کې دریدلی شي.

داچې خبره په پښتو ادب کې په ځانګړي ډول د شعر په ژانر کې د ښځینه احساساتو دکارونې پرښکالو (موضوع) را څرخي نو زمزمې نیازۍ هم ددې موضوع د اوچتولو په برخه کې اهم او اړین ګامونه اخیستي دي.
له خپلو خبرو او تجربوسره مله ده په شعر کې یې ډېرښه مزل روان کړی دی د خوږ ژبي شاعر جلال امرخیل په خبره لغت پراني یې نه ده کړې لکه د ارایش پر رنګونو یې بې ځایه نه ده لړې چې بدرنګي پکې راشي خوږه،ترسکونه،سندریزه اوسوچه پښتو کلیوالي ژبه یې کارولې ده.
لکه لاندې بیتونه:

حیـرانــه پــه دې نــه وم چې پــه ســردې لــوېټــه وم
یــو ستا نــه، دهــرکاڼي، د هــر بــوټــي زمــزمــه وم
زمــا پـــه مستـــانــه انــدازبــه ټـول پـه نڅیدو شــول
د مینـــې مستـــی ډکــه یـــوه داســـې تـــرانـــه وم

پـرون دي يـــوه داســي زمــزمـــه را تــه كـــوله
چې زه به دې مړوند بـانـدې خـــوره وره اوده وم

تاسو وګورئ شاعرې په پاسنیو بیتونو کې یې خپل ښځینه احساسات چې خپلې خبرې او د تیرپراو د یادونوتجربې هم ورسره دي څه په ښکلي بغاوتي انداز راخیستي دي.
ځیني شاعران مې په همدې ډېرخوښ دي چې په شعر کې یو ډول بغاوت او شورش کوي او شعرته موسیقیت اوشرنګ ورکوي،چې لوی هنر یې د انسان د جزباتو پارول دي.
لکه مصطفی سالک وایي:

ټوله زنده ګي مې دغه شرنګ کړه،
لاس نه غورځیدلي پیمانه دې کړم

د شاعرې زمزمې د پاسني بیت په مطلع کې لوپټه د پښتونولی،غزت ،حیا،ستر او سپیڅلتیا سیمبول(علامت )دی چې ورسره ترلي مطلعي یې خوند نور هم برابر کړی دی دلته زمزمه دوه ماناوې ورکوي یوه یې پخپله د شاعرې نوم دی او بله یې هم د اواز مانا دی، هرکله چې یوه کلمه دوه ماناوې ورکړې شاعرانه کلمې جوړېږي.
د سیمبول ( علامت ) په باره کې شاعر او کره کتونکی طایر خلاند وایي:

(( دهر وخت په غزل کې د حالاتو له غوښتني سره سم علامتونه راوړل شوي دي او د غزل لمن له رنګارنګه سیمبولونو ډکه ده له ګل،بلبل،شمع،پتنګ،سنبل،سروه،چنار،ګودر،ماښام،پیمانه،میخانه، ساقي،ذاهد، ناصح، ریباراو د داسې نورو علامتونو را واخله ترننه غزل ته د هنر دا جامه ورپه غاړه شوي او غزل ته یې هنري رنګ ور کړی دی،چې له دې سره په کې معنوي وسعت او هراړخیزتوب هم ځای پیدا کړی دی.))

ښاغلی خلاند وایي ځیني لفظونه د وخت په تیرېدو سره علامت جوړشي. د ژبې سره د تعلق لرونکوخلکوتصورات د دې په اړه د هغوی کلتوري ارزښتونه او په اعتقادي توګه د هغې سره ترلي نظریات د علامتونو په رامنځته کولو کې پوره ونده لري.

د خلاند له نظره دغه تهذیبي اقدار، تاریخي حقایق او عقیدوي تصورات د ټولني سره ترلي وي.
خلاند داهم وایي دا سې نظریاتو او مفکوره لفظ ته د علامت او سیمبول بڼه ورکړي،چې د موقع په مناسبت سره په خپل ځان کې نوي نوي اړخونه د مانا له پلوه راوړي. (دپښتو غزل تنقدي جاج ۵۱ - ۵۲ ص)
د سیمبول (علامت) د ارزښت په اړه څیړندوی عبدالغفور لیوال د آنیه لا یافه د یوې لیکنې په حواله په لیدنیو هنرونو کې دسیمبولېزم په باره کې لیکي:

((دسیمبولیزم تاریخ ښيي،چې هرڅه سیمبولیک ارزښت موندلای شي. انسان د هغه تمایل له مخې چې سیمبول جوړوني ته یې لري،اشیا او شکلونه په سیمبولونو بدلوي (او هغوی ته زښت ډېر اروا پوهنیز ارزښت وربښي ) انسان سیمبولونه هم په مذهب اوهم په لیدنیو هنرونوکې کاروي.))
شعري سیمبولونه ۱-۲ص

شاعرۍ زمزمې دوییم بیت کې یې خپلې خبرې په څومره ښکلې مستانه انداز ځای کړې دي په دې ځای کې ترانه استعاره ده ترانه داصلي مانا نه په یوه بله مانا باندې بدله شوې. د استعارې اصطلاحي تعریف له مخې استعاره هغه لفظ ته ویل کیږي چې د مشابهت (ورته والي ) له امله د اصلي وضع شوې مانا نه پرته په بله مانا د قرینو د موجودیت په صورت کې وکارول شي استعاره یې بللی شو.

په اخرني بیت کې چې مقطع ورته وایي زیات شمېر شاعران یې په ډېر ښکلي او هنري انداز داسې ښکلا ورکوي چې لوستونکي سره یو ډول تلوسه ملګرې کړي ترڅو ترپایه بیت ولولي او د لوستونکي ساړه جزبات راو پاروي.
دلته هم زمزمه دوه ماناوې ورکوي، چې یوه یې دشاعرۍ نوم اوبله یې هم د اواز په مانا راغلې ده.
لاندې بیتونه یې څه ښه سندریز شور لري:

د هجــران تـــورې تــیــارې راتـــه رنــا کـــړه
تـــه رنـا شــه لکــه لمــر شـــه را تــه ګـــوره
داسې درد مې کړه چې هـروختې تـا یـاد کــړم
نــا عـلاجــه یــو پــرهــر شـــه راتـــه ګـــوره
د بې‌لـتـــون تـــورې لمبـــې را پســـې راغـلــې
د رڼـــا د کلــي غــر شـــه را تـــه ګـــوره
د ډیـــوې غـــونـدې پـــه نــه شمــال مـړه کیــږم
ای لـه ژونـد نـــه مـې خبــر شـــه راتـــه ګـوره
ډېر کـلــو نـــو مـــې د غـم روژې نیـــولــې
د خـــوښـــی پـــه نــوم اخــتر شـــه راتـه ګـــوره

هرڅوک شاعر کیدای نه شي شاعر د یو ځانګړي شاعرانه خاصیت او ذوق څښتن وي،هره خبره یې شاعرانه وي او ان ترديِ ،چې خوبونه هم شاعرانه کوري. زمزمه هم شاعرانه خوی او ذوق لري د دې له نوم هم جوتیږي چې د شعر خواږه یې د وجود په ختـه کې اغږل شوي دي.

وایي چې نامتو ادیب (اډین )ته یو ځوان مراجعه وکړه او ورته ویې ویل :(( زه غواړم چې شعر ووایم،لطفا ماته لاربښوونه وکړه.)) اډین ورڅخه وپوښتل:((آیا دشعر ویلو لپاره کومه مهمه مفکوره له ځانه سره لرې؟)) هغه په ځواب کې ورته وویل :((هو غواړم یوه مهمه مفکوره په نظم راوړم)) اډین

ورته وویل :(( څه بچیه ! له تا څخه شاعر نه جوړیږي!))دا خبره د مبالغي لپاره ویل شوې ده،خود هغو ځوانو شاعرانو لپاره ښه درس دی چې فکر کوي ښه شعر یوازې هغه شعر دی چې مهمه مفکوره پکې نغښتل شوې وي او یا شعار پکې راغلی وي کله ـ کله د یو شعر ښکلا د یوې کلمې په استعمال پورې اړه لري لکه په لاندې بیت کې د عکس کلمه د دوهم ځل لپاره:

مابرفتم وعکس ما باقی است
گردش روزگاربرعکس است

په یوه بل ځای کې بیا (اسماعېل نوري علا) د(H.Coombes)خبره رانقلوي:

(ظریف ترین وبرجسته ترین افکار فیلسوفان،روانشناسان ومردم شناسان ونظایر انها صرفا باورود به شعر،شاعرانه نمي شوند.کسی که شاعرانه فکرمیکند خودش شاعر است.)(۹) محمد صدیق روهي شعر پيژندنه ۴۰ص

پښتو ادب ته غزل له عربو راغی اکبر زمینداور د پښتو ادب په چم کې ورته ځای ورکړ ؛خو چې تر ترحمزه شینواري راورسېد نو پښتني رنګ يي ورکړ عشقي او تغزلي خبروسربېره نوري تولنيزې خبرې هم پکي ځای شوې اوغزل یو ازاد فورم وګڼل شوچې تر اوسه هم په همدې رنګ کي چليږي.
د اغلي زمزمي پاسنی غزل چې سندريزې شور يي پیدا کړی دی د (ر) توري تکرار دی او دخوږې ژبې کارول يي ښې بیلګی دي.

په پاسني دریم بیت کې درنیا د کلي غرد بیلتون له تورو لمبو سره د ضد او نقیض کلمو راوړنه نوې او په زړه پورې خبره ده دلته يي خورا ښکلې تشبیه کارولې ده دا ډول تشبيه مې ډېره خوښیږي په شعر کې د داسې تشبیهاتو راوړل شعرته ژبه او سا ورکوي.

دا دهرشاعر ښه مهارت ګڼل کيږي چې په غزل کې څه ډول کلمات راوړي ،څه ډول کولای شي دشعر عاطفي اړخ ته پاملرنه وکړي ،څومره کولای شي ډېرې خبرې پکي ځای کړي او څنګه کولای شي يوه ښه موضوع او یو ښه پیغام په یوه ښکلي انځور کې ځای کړي اولوستونکو ته يي په ښه شکل سره ولیږدوي.
شاعر او کره کتونکی مصطفی باور ښه شعر د نګه مناره ګڼي او وايي که څوک غواړي دې دنګي منارې لوړ سرته ځان ورسوي نو له ملنګی اوعاجزی دې کار واخلي لکه رحمان بابا چې وايي :

ځان ژوندی پرځمکه ښخ کړه لکه تخم
که لويي غواړې د خاورو په مقام شه

یا لکه حمزه بابا فرمایي:

هغه ځای نکړې غلط چې ترې الوزې
ته چې څو په پورته درومې ګوره ښکته

شاعرې لاندې بیتونو ته څه ښې پښتني انځوریزې جامې ور اغوستې او د ناوړو رواجونو هتکړې يي ماتې کړې دي،چې ورسره د خپلو احساساتو یوځای کېدو يي خوند دوه برابره کړی دی.

اوښکي که مي لاړې اوازې به ترینه جوړې شي
سترګي که مي سرې شوې ننداري به ترینه جوړې شي
دومره چې دا ستا د راتلو لارو ته زه ګورمه
کاڼو ته که وګورم اینې به ترينه جوړې شي
دا خو مې په زړه کې دي ساتلي ستا غمونه ټول
اه که له خولې وباسم لمبې به ترینه جوړې شي
هره یوه خبره دې غزل غزل ته کرښه کړم
ګورې به تل پاتې خاطرې به ترینه جوړې شي
لږ که مي هم ژوند کې د خوښی څه اثر راغی نو
غمه ستا لاسو ته زولنې به ترینه جوړې شي

دا چـې د چا یاد کې کاغـــذونه تـــوره وي داســـې
ګوره! زمزمې چې زمـزمـــې به تـــرېنه جـــوړه شي

شاعرې په دوهم بیت کې څه ښه نازک خیالي کړې ده ،کاني ته لیدل اواییني ترې جوړول نوي او په زړه پورې شاعرانه خبره ده.
د شعر د ښکلا لاروي نور الحبیب نثار په خبره د کېمیا هنر همدې ته وایي چې له خاورو نه څوک سره زر جوړ کړي. په شعر کې د داسې کلماتو راوړل شعر پیاوړی کوي اوهمدا دی چې شعر ژر د لوستونکي پر زړه منګولي خښوي.

د دې قدرمني اغلي شاعرې چې له خوند او شرنګ څخه ډکه ده یوازینی ښه والي او علت یې هم د حسن تکرار قافیو کارول دي،چې کتاب یې په داسې بېلګو په پراخه پیمانه غني شوی دی.

داانځوریز بیتونه یې هم دستاینې دي:

اغـزي اغزي نظر دې ما پـه دې چم نـه خـوښـوي
ځـم د وصـال ګـلان کـــرمـــه د صحرا پـــه لمـن
د زمزمې خـوښـې دې یووړه په دریـاب نظـر کـې
بـــس تـمام عـــمر دې را پـرېـــښوده ژړا په لمن

په دې بیتونو کې اغزي اغزي نظر خوندور ترکیب دی،دلته د اغزیو او ګلانو ترمنځ نږدې جوړښت یې په ښکلي شکل سره ترسیم کړی دی.
په دوهم بیت کې هم شاعرې دریاب نظر نوی ترکیب او په زړه پورې شاعرانه خبره کړې ده.
زمزمه نه یوازې چې په غزل کې اوچت لاس لري بلکې د نظم د مانۍ په جوړولو کې هم دهنرمندۍ مهندسی په توګه شمېرل کیږي.
دا اغلې راتلونکي ته د رڼا په سترګه ګوري او دوخت بدلون په نیک فال نیسي.
دا هغو لټانو او تیاره پلویو ته د رڼا په لور د هڅونې سندرې وایي کوم ،چې د تیارو ،وحشت او ناپوهۍ ځېلي اوله وېرې یې سر نه شي اوچتولی.

تـه بـه یې ګـــورې ،دا نړې بـه یې ګـــورې!
تـــل مـــې پـــه دغـــه رتـــــې
تل په همدې راته کړې سپکې سپورې
ښځـــه مکتب،قلـــم کتاب، څـــه کـــوي
ښځه پیــــدا ده د خپل کـــور کـارو تـــه
خـــو پـــه دې نــــه پـــوهــېـــږې!
زمـــا پـــه زړه کـــې نـــوې هیلـــې دي شنـــې
زمـــا زړګـــــی پـــه دې وطـــن خـــوږیږي
زما زړګـــــی پـــه دې وطـــن سوځـیږي

ترپایه ...

ځیني بیتونه یي ډېر دردوونکي هم دي:

هغه خو ښه دی چي سړی له یو جګ غره ولویږي
نه چي په ژوند کي د خواږه اشنا له زړه ولویږي
ستا د نامې کرښې به هغه وخت شي هیرې ترېنه
چي زمزمه دې د دنیا له ژوندانه ولوېږي

یالکه دا:

که ستا په نوم مي له وجوده زنده ګي لاړه شي
بیابه دې هله د غرور دنګه خاني لاړه شي
وخته پرموږ دې پیرزوینه هغه وخت منمه
چي د مورکی ګریوان مي وچ شي تباهي لاړه شي
څنګه به هغه وخت له ژوند څخه خواږه را تول کړې
که زمزمه دې له ژوندون څخه بیخي لاړه شي

په بل بیت کي له خپل تقدیر ګیله منه ښکاري

تقدیره څنګه به دې خپل کړم څنګه لاس درکړمه
تا چي خوښي ټوله وېشله زه در یاده نه شوم

تاسو وګورئ شاعره خپل محبوب ته د خپل کلي خاموشې ښکلاګاني ور یادوي او د ښارونوپه غوغا کي ورته د ډوب نشي غږ کوي:

د هوسونو دنیا یووړې د پیمخو ښار ته
د ښار امیل خو ارزښت نه لري لونګو مخ کي
د کرکي او دردونو په ښار کي د غم له سوداګرۍ سترې شوې
په ارزانه هر یو درد په کي موندی شو
په یو داسي ښار کي تم یو زه او ته

په اوسني دور کي چي د ښځو د تاوتریخوالي ګراف مخ په لوړیدو دی همدې ویرجنو حالاتويي په زړه کي ویرونو غوټې داسي سپړلي دي، چي د درد غمي یې د شعرد ښاپیرۍ په سترګو کي سترګکونه وهي.
او د هرځل په لیدو سره داغمي لکه ساري ناروغي بل انسان ته هم انتقال مومي.
د بېلګې په ډول:

ښېنتو خو ما ته د قانون په څېر وه
دنیا ته راغلم ارمانونو سره
یو څو کلونه ناخبره ومه
ژړا خندا را ته یو شان ښکاریده
څه په ژړا څه په خندا به ومه
خبره دا د ماشومتوب وه کنه
»»»

کــلـه چـــي لـويــه شــوم او پيغـلـه شـومـــه
لـکــه چـــي بل شـــانـــي دنيـــا تـــه راغلم
غمــونـــه ډيــروو، خـــوشحالـــي لـــږه وه
کلـه بـــه پـــلار کلــه بـــه ورور رټـــلـم
مـا بـــه دا هـــرڅـــــه پـــه خنـــدا تېـرول
ما د پـــښتـــو قـــانـــون همدا سـې ګنـو
ترپايه ...

د اغلی زمزمي په شاعری کې مې یوې ښيکنې ته پام شو هغه داچې په شعر کې يې د خپلي ټولنې د عزت پولو ته په پوره مانا پام کړی دی.
د پښتوادب په ډګر کې ځيني ښځينه شاعراني لرو،چې د غربي مسلطو دودونو تر اغيزې دومره راغلي چې ځيني وخت ترې د خپل چاپيرچل اوپښتو معاشرې د عزت ستني له بېخه باسي او دا کار د پښتني کلتور په زيان کې داسې رول لوبوي لکه د شګو ورخ اوبه يوسي.

د ميرمن بهير غړې شاعره او ليکواله پاکيزه ارزو د دې په شاعرۍ کې د ښځينه وو احساساتو کارولو ته ځيره ده او د دې پر شاعرۍ راته غږيږي:

((هغه څه چې ما په دغو شعرونه کې محسوس کړي هغه ښځينه احساسات او شوخوالی دی. زمزمه جانه دغه شعرونه په ډېر جرت مونږ ته اوروي نه يې له شوخي څخه شرم خوري او نه يې په ويلو کې مکس کوي چې دغه ځانګړنه يې زما ډېره خوښېږي.))

د ارزو په وينا د دشعرد خوږوالي ترڅنګ ښکلي پيغامونه هم لري،چې دې په کم عمر کې د خپلې رواج پالي ټولني او جنګ ځپلي هيواد له ناخولو څخه ډېر څه د شعرونو لپاره الهام کړي دي او بېرته يې د شعر په خوږه ژبه موږ ته را رسولي دي.
د نوموړې په خبره له شر څخه کرکه او له انسانيت سره مينه هغه څه دي،چې په ښکلو الفاضو کې يې اوبدلي دي. لکه لاندې ځوبېلګې يې:

وايي چې يو انسان دې مرکز، ټول جهان دې مرکز
دلته بې شمـــاره مري ،ودانـــه لا نـــړی پاتـــې يـــې!
زمزمې ښکاري، يې! د دې وخت د بدلون په تمه
په دې حالاتو کې چې اوس هم لا موسکی پاتې يی

همدارنګه دا بيت:

دومره اورونــه دې کړل بل ځان دې هم وسوځـــاوه
زه دې قربان شم پرمختګ خو په لمبو نه راځي

د ارزو په اند د زمزمي په شاعري کې د مينې برخه درنه ده اود انسانو ترمنځ مينه ناکي رشتي يې هم ښکلي انځور کړې دي:

منم چې ته به يې مين خو دا به هم منې ته
ډېر دې مين هم دي، جانانه لکه زه او زړه

ستا د نامي کرښې په هغه وخت شي هېرې ترېنه
چــې زمزمه دې د دنـيا له ژونــدانه ولــوېـــږي

يالکه دا :

زموږ تقدير که به په نوم د بدلون هم يو څه وي
تل خوبه نه وي دا د ظلم تورې شپې زمزمـــې
ته چې هغه غواړې د دې خبرې دا معنا ده
چې نه د ځان نه د پښتو پروا کوې زمزمې

څوان نقاد طاير ځلاند د زمزمې شاعرۍ ته ديو نيک پال په سترګه ګوري او هيله لري چې دا لړۍ به لا وده ومومي.
ځلاند وايي : داغلي زمزمي نيازۍ دشعرونو يوه برخه چې ما ولوستله نو په ذهن کې مې دهغې دشاعرانه وجود يو تصوير ترسيم شو .
دځلاند په اند دهغې لفظونه شاعرانه دي،خيالونه يې دخپل سپيڅلي احساس هنداري ګڼل کيږي.
طايرځلاند زياتوي: ((جذبات يې دانساني کراماتو نه ډک دي تر ټولو دخوښې وړ نکته يې په شعر کې ما دا پېدا کړه چې نوموړې دخپل ذات ديوې ورکې ميرمنې په لټون ده کومه چې موږ سره دهغه د ميرمنتوب پيژندګلو کوي.))

شاعره او ليکواله محموده تقوا د زمزمې شاعري په دې ښه ګڼي چې په شعر کې يې خپل سپيڅلي رسالت ته ډېر پام کړی دی.
نوموړې د لرغوني يونان د پوهانو نظريې د بېلګې په توګه راخيستي دي چې د ښه هنري شعر د ليکلو روايت ترې کيږي:

(( هر شاعر بايد يو سپېڅلی رسالت ولري او خپله شاعري بايد له مظلوميتونو نه د پردې اوچتولو له پاره ګوښې کړي .))

د محمودې تقوا په قول که څوک دا ونه کړي خپل شعر او احساس د معشوقې ستايلو ته ځانګړی کوي داسې ده لکه له کندو څخه چې سپی لارويانو ته ورغاپي.
د تقوا په خبره شاعران د خدای د مدرسې زده کوونکي دي نو بايد د سپېڅلتيا درس ور کړي څو يې ټولنې ته هره هنري او خوږه وينا د کاڼي کرښه ووسي.
تقوا وايي زمزمه هم د همدې مدرسې زده کوونکې او ښوونکې پاتې شوې د دې تر څنګ چې د شعر او شاعرۍ د هنر او ښکلا سيندونه يې د سپېڅلي بغاوت موجونه وهي ورسره شعر يې يو دردوند او منونکی پيغام هم لري.
اغلې تقوا د پاکې ارزو د خبرې په تاييد وايي:

((د زمزمې په شعرونوکې مينه د مظلوميت او د محکوميت لمبې وهي،او دې هغه څه انځور کړي چې هرې پښتنې به دا درد په خپل زړه کې پټ ساتلی وي.))

استاد علم ګل سحر زمزمه يوه با جراته ليکواله او شاعره را پېژني او وايي دا هم کيسې ليکي او هم يې د شعر په ډګر کې د نوښت خوا نيولې ده.

استاد سحر وايي:
(( زمزمي په ډير لږ وخت کې وکولی شول د افغان ميرمنو شاعرانو په منځ کې خپل ځانګړی ځای پيدا کړي ددې لومړنيو شعرونو لا له ځانه سره د نوښت زيری درلود،باور دی چې په ادبي کړيو کې به له تاوده هرکلي سره مخ شي او زموږ په شعر يوه ښه زياتونه يې بللی شو.))

د ده په باور د زمزمي په شاعری کې د وقوع طرز ډير برجسته دی او دې شي ددې شعر ته يوه ځانګړتيا ور په برخه کړې ده.

زمزمه نيازیپه خپل کتاب ( نه به هغه په دې لار راشي، نه هغه وختونه )کې پخپلو خبرو کې وايي چې زما شاعري نوې او ځوانه ده ښايي چې ستونزې به ولري.
زما په اند که مطالعه زياته کړي ښايي چې د شعري ذوق قوه يې مخ په لوړيدو شي.
زمزمه له عمره خامه ده د ژوند د پسرليو په تېرېدو به يې شعري ښکلا قوت ومومي او د شعر مينه وال به يې د زړه په تاخچو کې تل ياده ساتي.

په پای کې اغلې زمزمي او د دې د شعر مينه والو ته د همدې تولګې مبارکي وايم او لوی رب ج ته لاسونه لپه کوم چې د پښتو په ادب کې دې دا ډول نورې سپېڅلې پښتنې نجونې هم پيدا کړي چې د خپلو مينه ناکو شعرونو پر رنګونو د پښتو ادب لا رنګين او غني کړي.
خپله ليکنه د کاروان صيب په دې شاعرانه وينا پای ته رسوم،چې وايي:

غـزلي د زلمـــو به ښکه وکـــړي غـــزوني
کاروانه چې خپاره نه شي د نجونو کتابونه

قلم يې تاند او ديوهي چيني يې رواني لري

*******

فريد احمد « تسکين »

اخځليکونه:


۱ـ بدر،صديق الله،د لونګو دربڅې ويبلاګ
۲ـ ځلاند،طاير.پښتو غزل تنقيدي جاج،لومړی چاپ،دانش مطبعه پېښور ۱۳۹۰ ل ل.
۳ـ ليوال،عبدالغفور.شعري سيمبولونه د چاپ نوبت دويم،دانش خپرندويه تولنه ۱۳۹۰ ل ل.
۴ـ روهي،محمد صديق. شعر پېژندنه لومړی چاپ، صميم ادبي تولنه کابل ۱۳۸۵ ل ل.
دويم چاپ ميهن خپرندويه تولنه ناصر باغ روډ ۱۳۸۹ ل ل.
۵ ـ نيازی،زمزمه. (نه به هغه په دې لار راشي، نه هغه وختونه) مصورخپرندويه بنست ۱۳۹۱ ل ل چاپ چارې مومند خپرندويه تولنه ـ ننګرهار


بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org